شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

چهارشنبه | د شعبان المعظم ٤-١٤٤٥ل س/ د سلواغې ٢٥-١٤٠٢ل ل/ د فبروری ١٤-٢٠٢٤ز/دوهم کال / ٨٧ گڼه/ ٤ مخيز



مسواک وهل نبوي لارښوونه ده:

په رد مختار کي د مسواک (۷۰) گټې ذکر سوي دي، چي مهمې ئې په لاندي ډولي دي :

۱ـ د غاښونو ورۍ ټينگوي. ۲ – د توخي بلغم له منځه وړي، چي بلغم کم سي؛ نو ذهن پياوړی کېږي. ۳- د خولې بد بويي له منځه وړي او خوشبويه کوي ئې. ۴- صفرا ليري کوي.۵ – د سترگو ليد تېزوي. ٦ - تر ټولو مهمه گټه ئې داده، چي د مرگ په حالت کي ئې کلمه شهادت په نصيب کېږي.

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سر مقاله

### ترويج فرهنگ نوآوری در اداره

ايجاد ماموريت و ارزش های نوآوری: تعريف ماموريت و ارزش های که متمرکز بر نوآوری و خلاقيت هستند، به کارکنان پيام ميدهد که اداره از اين ارزش ها پشتيبانی می کند و انتظار دارد که کارکنان نقش فعالی در ترويج نوآوری داشته باشند. اين ارزشها بايد در تمامی سطوح اداره معرفی و ترويج شوند.
ايجاد فضای باز برای ارائه ايده ها: برقراری فضای که به کارکنان اجازه ميدهد نظريات خود را بيان کنند وبه طور مستقيم در جريان تصميم گيری اداره شرکت کنند، اهميت دارد. می توانيد جلسات گروهی، کارگاه های آموزشی و جلسات باز برای بحث و تبادل افکار برگزار کنيد. همچنين،چارچوب های آنلاين و نرم افزار های مديريت ايده ها را معرفی کنيد تا کارکنان بتوانند به راحتی نظريات خود را به اشتراک بگذارند.
تشويق به همکاری و تيم کاری: تشکيل تيم های چند تخصصی و ايجاد فرصت های همکاری بين اعضای تيم، به کارکنان امکان ميدهد تا از دانش و تجربيات همديگر بهره برداری کنند و ايده های جديد را با هم توسعه دهند. همچنين، تشويق به همکاری و تعامل بين واحد ها و بخش های مختلف اداره نيز می تواند ايده پردازی و نوآوری را ترويج کند.
ارائه پاداش ها و تشويق ها: ارائه پاداش ها و تشويق ها به کارکنانی که ايده ها و نوآوری های موثری را مطرح ميکنند، می تواند ايجاد رقابت و تشويق به خلاقيت را تسهيل کند. اين پاداش ها می توانند مالی و معنوی باشند، مانند افزايش حقوق، ترفيع، تشويق های غيرمالی مانند تقدير و تشکر عمومی، ارائه فرصت های آموزش و توسعه، يا حتی فضای برای استقلال و خلاقيت می باشد.
ايجاد جريان های نوآوری: تعريف و اجرای جريان های منظم برای جمع آوری، ارزيابی و اجرای ايده ها ميتواند به ترويج فرهنگ نوآوری کمک کند. برای مثال، ميتوانيد جريان برای ثبت و بررسی ايده ها ايجاد کنيد و يا تيم های را برای ارزيابی و پياده سازی ايده ها تشکيل دهيد.
ارائه منابع و زيرساخت های لازم: برای ترويج فرهنگ نوآوری، لازم است منابع و زيرساخت های مورد نياز را فراهم کنيد. اين شامل ارائه ابزارهای نوآوری، تجهيزات فناوری، دسترسی به اطلاعات و منابع آموزشی است. همچنين، تشويق به حضور در رويداد ها و کنفرانس های نوآوری و ايجاد ارتباط با صنعت بيرون از اداره نيز می تواند به توسعه فرهنگ نوآوری کمک کند.
نمونه‌های موفقيت: با به اشتراک گذاشتن نمونه های موفقيت در حوزه نوآوری درون اداره و در صنعت، می توانيد الگوهای الهام بخش برای کارکنان ايجاد کنيد و آنها را تشويق به ارائه نظريات خلاقانه کنيد.
رهبری نوآورانه: رهبران سازمان با نشان دادن رفتارهای نوآورانه و حمايت از نظريات نو در محيط کار، می توانند فرهنگ نوآوری را ترويج کنند. رهبران بايد اعتماد به توانمندی های کارکنان را نشان دهند، ايده ها را تشويق کنند و به آنها فرصت بدهند تا خطاها را بکوشند و از آن ها ياد بگيرند.
با بهره برداری از اين راهکار ها، می توانيد فرهنگ نوآوری را در سازمان خود ترويج کنيد و به کارکنان اجازه دهيد خلاقيت خود را بيان کنند و ايده های نوآورانه برای بهبود جريان و رشد سازمان ارائه دهند.

با احترم
اداره

# د مالي ثبات کمېټې او د مجوزو بانکونو د ونډوالو ترمنځ دوهمه ناسته ترسره سوه




د مالي ثبات کمېټې او د مجوزو بانکونو د ونډوالو ترمنځ په دوهمه ناسته کي، د هيواد په بانکي سکټور کي د شته ستونزو په له منځه وړلو خبري وسوې.
په دغه ناسته کي، چي د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند، د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند، د افغانستان بانک لوی رئيس، الحاج ملا هدايت الله بدري او د اړوندو ادارو يو شمېر مسؤلينو گډون کړی وو؛ په هيواد کي د بانکي سکټور د ستونزو د له منځه وړلو او له دغه سکټور څخه د هر اړخيز ملاتړ په اړه خبري وسوې.
د ماليې وزير، د بانکونو ټولو ونډوالو ته ډاډ ورکړ، چي د دوی د ستونزو د حل په موخه به پوره هلي ځلي کوي او له دوی څخه ئې وغوښتل، چي هيواد ته راستانه سي او د خپلو بانکونو او هيواد په ابادۍ او پرمختگ کي عملي برخه واخلي.
په دغه غونډه کي د بانکونو د ونډوالو ستونزي، غوښتني او وړانديزونه واورېدل سول، د مسؤلينو له لوري ورسره اړيني سپارښتني شريکي سوې او د ستونزو د حل پوره ډاډ ورکړل سو.

# د هيواد په ۱۲ گمرکي بندرونو کي د الکټرونيکي سکنرونو د نصبولو طرحه د اقتصادي کمېسيون له لوري تائيد سوه



د ماليې وزارت له لوري اقتصادي کمېسيون ته د قاچاق د مخنيوي او لا زياتو رڼو عوايدو را ټولولو په موخه د هيواد په (۱۲) گمرکي بندرونو کي د (۲۴) پايو برېښنايي سکنرونو نصبولو طرحه وړاندي سوې وه، چي د ياد کمېسيون له لوري تائيد او منظور سوه.
د خصوصي سکټور په همکارۍ به د دغي طرحي له مخي د هيواد په (۱۲) گمرکي بندرونو کي د عامه مشارکت له لاري د (۸) ميليارډه افغانيو په ارزښت (۲۴) پايې لوی برېښنايي سکنرونه نصب سي، چي په هر بندر کي به يو سکنر د صادراتو او يو د وارداتو لپاره فعاليت کوي. دغه سکنرونه به د دوو کلونو په موده کي فعال او گټې اخيستني ته وسپارل سي، چي له عوايدو څخه به ئې (٪۴۰) سلنه ملي خزانې ته راځي.
د يادوني وړ ده، چي په گمرکي بندرونو کي د برېښنايي سکنرونو له نصبولو سره به، په گمرکي چارو کي لا ډېره روڼتيا او چټکتيا رامنځته سي، د قاچاق او گمرکي عوايدو د تېښتي مخه به په کلکه ونيول سي او په پايله کي به په گمرکي عوايدو کي په ميلياردونو افغانۍ زياتوالی راسي.

# د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د مالياتي او سوداگريزو مسايلو په تړاو د مذاکراتو لومړی پړاو ترسره سو

د افغانستان او ترکمنستان هيوادونو د مالياتي چارو د مسؤلينو ترمنځ د مضاعف (دوه ځله) مالياتو د نه اخيستلو او اړوندو نورو مهمو مسائلو په اړه، د مخامخ مذاکراتو لومړی پړاو، د ماليې وزارت د عوايدو او گمرکونو په معينيت کي ترسره سو.
په دغه درې ورځنيو مسلسلو مذاکراتو کي، چي د ماليې وزارت د مالياتي، تخنيکي، حقوقي او د پاليسۍ چارو مسؤلينو او د ترکمنستان هيواد د ماليې او اقتصاد وزارت د مالياتي سيستم او پراختيايي بوديجې د کارپوهانو رئيس، د مالياتي او حسابي پاليسۍ مرستيال او په افغانستان کي ددې هيواد د سفارت استازي گډون کړی وو؛ د دواړو هيوادو ترمنځ د مضاعفو (دوه ځله) مالياتو د نه اخيستلو، د سوداگريزو اړيکو د پراختيا، د پانگوني پر زياتوالي، د مالياتي تېښتي د مخنيوي او په يادو برخو کي د دوه اړخيزو اسانتياوو په رامنځته کولو مفصل بحثونه وسول او دواړي خواوي پر لومړنۍ چمتو سوي مسودې باندي هوکړې ته ورسېدل.
ددې مذاکراتو بل پړاو به په نږدې راتلونکي کي د دواړو هيوادونو د لوړپوړو مالياتي مسؤلينو ترمنځ د ترکمنستان په پلازمېنه کي ترسره سي.







له بوديجوي واحدونو سره د ۱۴۰۳ مالي کال د ملي عوايدو استماعيه ناستي پای ته ورسېدې

م ۲




د روان کال د مرغومي په مياشت کي د هيواد د سترو گمرکونو چاري د تېر کال همدې مودې په پرتله غوره و ارزول سوې

م ۲



د پلټني، کاري پروسو، سيستمونو او اړونده قوانينو په تړاو روزنيز پروگرام پيل سو

م ۲



د گمرکونو لوی رياست د کنټرول خوني د جوړېدو پروژه پرانيستل سوه

م ۲




اهميت اقتصادی بندر چابهار برای اموال تجارتی افغانستان

م ۳



پرتگال له افغانستان سره (۲۰۰,۰۰۰) دوه سوه زره يورو مرسته وکړه

م ٤

## له بوديجوي واحدونو سره د ۱۴۰۳ مالي کال د ملي عوايدو استماعيه ناستي پای ته ورسېدې

د ماليې وزارت لـه لـوري د ربـو مـلي عوايـدو راټولولـو، د عوايـدي سرچينـو د ښـه مديريت او په را روان (۱۴۰۳هـ.ل) مالي کال کي د ادارو لپاره د عوايدي هـدف ټاکلو په موخه، لـه بوديجوي واحدونـو سره د مـلي عوايـدو استماعيه ناسـتي پـای ته ورسېدې.

د يـادو غونـډو وروسـتۍ ناسـته، چـي د ماليـې وزارت د پاليسـۍ معيـن انجنير سـلطان محمـد زبيـر پـه مـشرۍ تـرسره سـوه؛ پـه لـړ کـي ئـې د بوديجـوي واحدونـو اسـتازو د روان مـالي کال لپـاره د عوايـدي هـدف د وضعيـت پـه تـړاو معلومـات وړانـدي کـړل او ورپسـې پـه را روان (۱۴۰۳هـ.ل) مـالي کال کـي پـه فرصتونـو، عايـداتي سرچينـو او د عوايـدي هـدف پـر څرنگـوالي بحـث وسـو او د غـوره عوايـدو د ترلاسـه کولـو پـه موخـه د يـادو بوديجـوي واحدونـو لـه اسـتازو سره اړينـي سپارښـتني شريکـي سـوې.

د ماليـې وزارت د پاليسـۍ معيـن، پـه را روان مـالي کال کـي د بوديجـوي واحدونـو د ستونزو د حل او مـلي عايـداتي پـروژو د ټاکلـو پـه برخـه کـي ډاډ ورکـړ او ټينـگار ئـې وکـړ، چـي د بې ځايـه لگښـتونو د مخنيـوي او د مـلي عوايـدو د ارزښـمند مديريـت پـه موخـه بـه اړيـن اقدامات ترسره کـوي.




## د روان کال د مرغومي په مياشت کي د هيواد د سترو گمرکونو چارې د تېر کال همدې مودې په پرتله غوره و ارزول سوې

د گمرکونـو لـوی رئيـس الحـاج مفتـي عبدالمتيـن سـعيد پـه مـشرۍ، د روان مالي کال د مرغومي په مياشـت کي د گمرکونو د وضعيـت ارزوني پـه موخـه تخنيکـي ناسـته د گمرکونـو او عوايـدو معينيـت د غونـډو پـه تـالار کـي تـرسره سـوه.

پـه دې ناسـته کـي د گمرکونـو لـوی رياسـت مرسـتيالانو، يـو شـمېر رئيسـانو او د ويډيـو کنفرانـس لـه لاري د ولايتـي گمرکونـو مسـؤلينو گـډون کـړی وو.

پـه پيـل کـي د گمرکونـو لـوی رئيـس ټولـو گډونوالـو تـه د ښـه راغلاسـت تـر څنـگ د يـوې کيـلي موټرونـو د ثبـت او محصـول پروسې، پـه گمرکونـو کـي لـه ټـاکلي وخـت څخـه د زيـات کار کولـو، ضبطـي توکـو، لـه هيـواد څخـه د بيرتـه تلونکـو کانتينرونـو او يـو شـمېر نـورو موضوعاتـو پـه اړه د ولايتـي گمرکونـو مسـؤلينو تـه لازمـي سپارښـتني وکـړې.

ور پسـې د گمرکونـو لـوی رياسـت د پـلان جـوړوني، پاليسـۍ، څـارني او ارزوني رئيـس ښـاغلي محمـد وسـيم عثـمان لـه لـوري د مرغومـي پـه مياشـت کـي پـه گمرکونـو کـي د تـر سره سـوو فعاليتونـو پـه تـړاو ټوليـز راپـور وړانـدي سـو او همـداراز پـه دې مـوده کـي د عوايـدو راټولېـدو، د هيـواد پـه ټولـو گمرکونـو کـي د تـر سره سـوي سـوداگرۍ، د وارداتي توکـو د گمرکـي ارزښـت او د سـوداگريزو محمولـو د شـمېر او ثبـت سـوي وزن پـه اړه گډونوالـو تـه بشـپړ معلومـات وړانـدي کـړل، چـي پـه دې راپـور کـي د هيـواد د سترو گمرکونـو چـارې د تېـر کال د همـدې مـودې او د روان کال د لېنـدۍ مياشـتي پـه پرتلـه مثبتـي ښـودل سـوي دي.

همـدا شـان گډونوالـو د مرغومـي مياشـتي د راپـور پـه اړه هـر اړخيـز بحـث وکـړ او د چـارو د لا ښـه والي لپـاره ئـې د ولايتـي گمرکونـو مسـؤلينو تـه لازمـي سـلا مشـورې ورکـړې.

د ولايتـي گمرکونـو مسـؤلينو هـم پـه خپـل وار سره پـه خپلـو اړونـدو کاري برخـو کـي د شـته سـتونزو يادونـه وکـړه، چـي د گمرکونـو لـوی رياسـت د رهـبرۍ لـه لـوري ئـې د ژر تـر ژره حـل کېـدو ډاډ ورکـړل سـو.

د يـادوني وړ ده، چـي د گمرکونـو لـوی رياسـت پـه مياشـتني، ربعـوار او کلنـي ډول د ټولـو گمرکونـو تخنيکـي ارزونـه کـوي، څـو شـته سـتونزو تـه پـر خپل وخت رسـېدنه وسـي.




## د پلټني، کاري پروسو، سيستمونو او اړونده قوانينو په تړاو روزنيز پروگرام پيل سو

د دوامـداره پرمختـگ او مسـلکي پراختيـا پـه موخـه، د ماليـې وزارت کورنـۍ پلټنـي لـوی رياسـت د دې اداري کارکوونکـو تـه د پلټني، کاري پروسـو، سيسـتمونو او اړونده قوانينـو پـه تـړاو يـو مياشـتنی روزنيـز پروگـرام د ماليـې وزارت په خيـبر هال کـي پيل کړ.

د پروگـرام پـه پيـل کـي د کورنـۍ پلټني لـوی رئيـس انجنيـر عبداللطيف خالـد د پروگرام گډونوالـو تـه د ښـه راغلاسـت ترڅنـگ، د روزنيـزو پروگرامونو د ارزښـت او گټـو په اړه خـبري وکـړې او د مسـلکي ظرفيـت لوړوني لپاره ئـې دا ډول پروگرامونه خورا مهم وبلل.

ښـاغلي خالـد لـه کارکوونکـو څخـه پـه ټينگـه وغوښـتل، چـي پـه پـوره لېوالتيـا د ظرفيـت لـوړوني پـه پروگرامونـو کـي گـډون وکـړي، خپـلي نيمگړتيـاوي رفـع او مسـلکي وړتيـاوي لا پيـاوړي کـړي.

ورپسـې د کورنـۍ پلټنـي لـوی رياسـت اړوند د شـتمنيو پلټنـي او بوديجـوي واحدونو د ظرفيـت لـوړوني رئيس قاضي شـېرزمان بلـوچ د ياد روزنيز پروگـرام د محتوياتو او درسي پـلان پـه اړه جزئيـات وړاندي کړل او له گـډون کوونکو څخه ئې وغوښـتل، چي په دغه رونيـز پروگـرام کـي فعالـه ونـډه واخـلي ترڅـو ئـې اغېزمنتيـا لا ډېره گټوره تمامـه سي.



## د گمرکونو لوی رياست د کنټرول خوني د جوړېدو پروژه پرانيستل سوه

د گمرکونـو لـوی رياسـت د کنټـرول خـوني د جوړېـدو پـروژه د توکـو د ورودي او خروجـي فعاليتونـو د دوامـداره څـارني او شـفافيت تأمينولـو پـه موخـه د يـو لـړ مراسـمو پـه تـرخ کـي د کابـل پـه گمـرک کـي پرانيسـتل سـوه.

په دې مراسـمو کـي د گمرکونـو او عوايدو معيـن الحـاج مـلا عبدالقاهـر حاجـي ادريـس، د گمرکونـو لـوی رئيـس الحاج مفتـي عبدالمتين سـعيد او د ماليـې وزارت يـو شـمېر نـورو مسؤلينو گـډون کـړی وو.


د گمرکونـو او عوايـدو معيـن مـلا عبدالقاهـر حاجـي ادريس د دغـه پروگرام پـه پرانيسـتې وينـا کـي وويـل، چـي د هـر حکومـت دنـده خپلـو خلکـو تـه غـوره او رانـه خدمتونـه وړانـدي کـول دي، د ننـنۍ پـروژې لـه پرانيسـتي څخـه هـم موخـه پـه ورودي او خروجـي پروسـه کـي د توکـو او سـوداگريزو فعاليتونـو دقـت او چټکتيـا، د امنيـت زياتـول او د غيـر قانـوني توکـو لـه ورود څخـه مخنيـوی کـول دي او د اسـلامي امـارت مسـؤلين هڅـه کـوي، چـي د اسـلامي شريعـت پـه چوکاټ کـي د شـفافو خدمتونـو پـه وړانـدي کولـو سره خپـل مسـؤليتونه او دنـدي پرمـخ يـوسي؛ ترڅـو لومـړی د خـدای (ج) او بيـا د خلکـو رضايـت ترلاسـه کـړي.

ورپسـې د گمرکونـو لـوی رئيـس الحـاج مفتـي عبدالمتيـن سـعيد د هيـواد د آبـادۍ او پرمختـگ پـه برخـه کـي لـه دغـه گام څخـه خوښـي وښـوده او زياتـه ئـې کـړه، دغـه کنټـرول خونـه، چـي د سـمبالولو پـه حـال کـي ده، د هيـواد ټـول گمرکونـه سره نښـلوي او هيوادوالـو تـه د چټکـو او رڼـو خدمتونـو د وړانـدي کولـو زمينـه برابـروي.


هغـه د افغانسـتان خلکـو تـه ډاډ ورکـړ، چـي د اسـلامي امـارت د مسـؤلينو اقدامـات او کـړني پـه بشـپړ ډول د خلکـو او هيـواد پـه گټـه دي.

وروسـته بيـا د يادي خـوني د جوړولو شرکت مسـؤل محمـد ظاهـر ابراهيمـي وويـل، چـي دغـه خونـه بـه لـه نړيوالـو معيارونو او سـټنډرډ سره سـمه جوړه سي.

پـه پـای کـي د دې پـروژې د جوړولـو کار د پټـې پـه پـرې کولـو او د تهـداب ډبـري پـه اېښـودلو سره رسـماً پرانيسـتل سـو، د دغـي پـروژې لگښـت شـاوخوا (۱۷،۵) ميليونـه افغانـۍ کېـږي، چـي پـه راتلونکـو اتـو مياشـتو کـي بـه بشـپړ او گټـي اخيستني ته وسـپارل سي.



## د مرکز او ولايتي گمرکونو د آرشيف کارکوونکو ته انلاين روزنيز پروگرام جوړ سو



د بـشري سرچينـو رياسـت لـه لـوري او د گمرکونـو لـوی رياسـت پـه همـکارۍ د ولايتـي او مرکـز گمرکونـو د آرشـيف کارکوونکـو تـه انلايـن روزنيـز پروگـرام جـوړ سـو.

پـه دې پروگـرام کـي، چـي د درېيـو ورځـو لپـاره بـه د ماليـې وزارت پـه خيبرهـال کـي دوام وکـړي، د اسـنادو او ارتبـاط رياسـت کارپوهـان بـه د آرشـيف، د آرشـيف د ډولونـو، د آرشـيف د ارزښـت، د ادارو لپـاره د آرشـيف د گټـو پـه اړه هـر اړخيـز معلومـات وړانـدي کـړي.

د يـادوني وړ ده، چـي ماليـې وزارت تـل هڅـه کـړې، چـي پـه خپلـو اړونـدو څانگـو کـي د حضـوری او غيـر حضـوري يـا انلايـن روزنيـزو پروگرامونـو پـه تـرسره کولـو سره د کارکوونکـو د مسـلکي پوهـي کچـه لـوړه کـړي؛ تـر څـو هغـوی وکـولای سي، چـي ورسـپارل سـوي دنـدي پـه غـوره او اصولي بڼه پـر مخ يـوسي.

## تېره اوونۍ په کندهار، نيمروز او هلمند ولايتونو کي بېلابېل قاچاقي توکي نيول سوي دي



تېـره اوونـۍ د کندهـار، نيمـروز او هلمنـد ولايتونـو پـه بېلابېلـو سيمو کـي د گمرکونـو لـوی رياسـت د گرځنـده څـارني کارکوونکـو د يـو شـمېر وارداتي او صـادراتي توکـو لـه قاچـاق څخـه مخنيـوی کـړی.

پـه دې نيـول سـوو توکـو کـي (۱۱۵۰) کيلـو گرامـه ټوکـر، (۴۰۰۰) کيلـو گرامـه دال، (۲۲۰۰) کيلـو گرامـه يونـاني درمـل، (۱۲۰) کيلـو گرامـه زراعتـي درمـل، (۱۱۷۰) کيلـو گرامـه طبـي درمـل، (۳۵) ټنـه مالتـې، (۱۲،۲) ټنـه شـيرني بـاب، (۲۶۰) کارټنـه اچـار او (۱۰) عـرادې موټرسـايکلونه شـامل دي، چـي غوښـتل ئـې پـه قاچاقي ډول ئـې لـه پاکسـتان څخـه افغانسـتان تـه راوړي.

همـدا شـان يـادو کارکوونکـو پـه هلمنـد ولايـت کـي د (۶۵۵۰۰) کيلـو گرامـه زړې اوسـپني د صادرولـو مخـه هـم نيولـې، چـي غوښـتل ئـې پاکسـتان هيـواد تـه ئـې پـه قاچاقي ډول ولېـږدوي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه



# اهمیت اقتصادی بندر چابهار برای اموال تجارتی افغانستان

دوکتور محمد اکبر نادرپور
آمر ارتباطات استراتیژیک با تمویل کنند گان، وزارت مالیه




بندر چابهار، یکی از بنادر استراتیژیک اقتصادی جمهوری اسلامی ایران بوده. دسترسی افغانستان به این بندر مسیر اموال صادراتی و اقتصادی را از مسیر بندر کراچی پاکستان تغییر داده و تسهیلات تجارتی افغانستان را به سطح ملی و بین المللی افزایش می دهد. تغییر مسیر ترانزیتی میتواند، زمینه را برای صادرات انواع اموال تجارتی با ارزش افغانستان مساعد نماید. این دهلیز ترانزیتی اقتصادی میان کشور های هندوستان، ایران و افغانستان می باشد. بندر چابهار از اهمیت خاص برای صدور محصولات تجارتی هندوستان و افغانستان بوده. سرمایه گذاری جهت توسعه فعالیت های تجارتی در بخش های مختلف این بندر میتواند قدرت اقتصادی را میان کشور های ایران، هندوستان و افغانستان بطور فوق العاده افزایش دهد. بندر چا بهار یکی از بنادر تجارتی مشهور کشور ایران است که دارای (١٧١٥٥) متر مربع مساحت می باشد. بندر چابهار درکنار دریای عمان و اقیانوس هند و در جنوب غربی سیستان و بلوچستان کشور جمهوری اسلامی ایران قرار دارد. این بندر از لحاظ اقتصاد به آب های آزاد دسترسی مستقیم داشته و یکی از مناطق مهم آزاد جهت صادرات محصولات مختلف در ایران محسوب می شود. بندر چابهار زمینه ساز برای تجارت محصولات صنایع و انواع مختلف مال التجاره میان کشور های هندوستان، ایران و افغانستان می باشد. هندوستان میتواند از طریق این بندر اموال تجارتی خویش را به افغانستان و کشور های آسیایی صادر نماید. تجارت اموال افغانی جهت صادرات به هندوستان و تجارت اموال هندوستان به افغانستان و سایر کشور های آسیایی، میتواند پیام بزرگ برای تسخیر بازار ها نفوذ اقتصادی کشور هندوستان در بازار های آسیایی باشد. با آغاز تجارت و صادرات محصولات مختلف اموال تجارتی افغانستان از طریق این بندر با کشور هندوستان میتواند زمینه ساز برای بازاریابی محصولات تجارتی دوباره افغانستان گردد. اهمیت استراتیژیک چهابهار، به لحاظ اقتصادی و سیاسی، تبدیل شدن آن به ظرفیت بلقوه در سطح منطقه و مؤثریت اقتصادی آن میتواند زمینه ساز شگرف اقتصادی و تغییرات در مناسبات اقتصادی و سیاسی منطقه به خصوص کشور های آسیای گردد. افغانستان از نگاه استراتیژیک در این مناسبات میتواند بحیث یک کشور فقیر، برای بهبود بخشیدن و تقویت همکاری های اقتصادی سه جانبه فرصت تجارت اموال ترانزیت اقتصادی خویش را در مناسبات تجارتی میان کشور هندوستان توسعه و بر پیکر اقتصاد ناتوانش مرهم بگذارد، افغانستان میتواند از این بنادر اقتصادی و ترانزیتی سود فوق العاۀ را در مقایسه با سایر بنادر مال التجاره صادر می نماید بهره مند گردد. افغانستان از لحاظ اقتصادی و وابستگی های حکومت های گذشته به منابع مالی کشور های کمک کننده، میتواند وابستگی های اقتصادی خویش را با منابع مالی جهان کاهش داده، زمینه تقویت تولیدات داخلی و مازاد صادرات را از طریق بندر چابهار به بازار های جهان افزایش دهد. چابهار از نظر اقتصادی ارزان ترین و نزدیک ترین مسیر برای اموال تجارتی اموال صادراتی افغانستان بوده، دسترسی افغانستان از طریق بندر چابهار به آبهای بین المللی و اتصال آن به بازار های بین المللی در مسیر ترانزیت جهانی و آبهای بین الملل، میتواند (٧٠) فیصد وابستگی های چشمگیر تجارت خارجی افغانستان را با پاکستان در مسیر راه ترانزیتی بندر کراچی که آسیب های بزرگ به صادر کنندگان اموال تجارتی افغانستان و تجاران ملی و بین المللی خلق نموده است، مستقیماً کاهش دهد. تفکر ما، بر اینست تا راه بدیل بهتری، برای بیرون رفت، از چالش های گذشته در مسیر بندر کراچی، اموال تجارتی افغانستان را که به ارزش صد ها میلیون دالر، وابستگی ترانزیتی و تجارتی داشته بود کاهش داده و میزان تجارت خارجی افغانستان را در مسیر راه ترانزیتی چابهار افزایش داده و افغانستان را قادر می سازد، تا وابستگی کمتری به بنادر کراچی داشته باشد. بندر چا بهار مسیر خوب و بزرگی برای اموال تجارتی افغانستان در مناسبات اموال تجارتی میان کشور های ایران، هندوستان و افغانستان بوده و از اهمیت ترانزیتی و استراتیژیک در منطقه بر خوردار است. بندر چا بهار، مستلزم آن است تا افغانستان با داشتن تجارت خارجی باید وارد معاملات تجارتی منطقه شده و از یک فرصت طلایی برای بهبود وضعیت اقتصادی در هم پیچیده و نا به سامان استفاده نماید. موجودیت اموال تجارتی و ظرفیت صادراتی افغانستان که بخش بزرگ اموال صادراتی کشور را محصولات زراعتی، مواد خام، میوه جات خشک، محصولات طبی، صنایع دستی، ذغال سنگ و انواع سنگ های قیمتی تشکیل می دهد، دریافت حق ترانزیت اموال، استفاده از حمل و نقل اموال تجارتی و دسترسی افغانستان به بازارهای جهانی میتواند اقتصاد افغانستان را در دراز مدت تغییر داده و باعث افزایش صادرات اموال تجارتی به بازار های هند و بازار های بین المللی، جهت تشویق روند توسعه اقتصادی افغانستان از مسیر ترانزیتی چابهار گردد. در نتیجه افغانستان میتواند تمرکز بیشتر خویش را، بر اهمیت اقتصادی و حیاتی جامعه، تقویت بنیاد اقتصادی داخلی، افزایش روند تولیدات داخلی و توانمند سازی افزایش صادرات افغانستان را از مسیر چابهار تقویت نماید.

# هشتمین نشست سال ١٤٠٢ هیئت رهبری ریاست عمومی عواید دایر گردید

هشتمین نشست سال (١٤٠٢هـ.ل) هیئت رهبری ریاست عمومی عواید وزارت مالیه تحت رهبری الحاج شیر محمد مشفق رئیس عمومی عواید در تالار معینیت عواید و گمرکات دایر گردید. در این نشست که معاونین، رؤسا و آمرین ریاست عمومی عواید اشتراك داشتند، روی به دست آوردن هدف عوایدی سال ١٤٠٢، مشکلات ولایت قندهار در رابطه به اتحادیه پمپ استیشن های تیل افغانستان، تطبیق طرزالعمل ارزیابی کارمندان و ادارات ریاست عمومی عواید و سایر موضوعات مربوطه بحث و تبادل نظر صورت گرفت. قابل ذکر است که نشست های هیئت رهبری ریاست عمومی عواید به شکل مسلسل دایر می شود؛ تا فعالیت های اجراء شده ارزیابی، مشکلات را مشخص و راه حل های مناسبی را در آینده برایشان دریابند.

# اعلانات داوطلبی

## د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د (٣٢٩٧.٢٥) متره مربع ځمکې په لرلو سره د یوه باب ویجاړې سوې ودانۍ د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت، د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې د (٣٢٩٧.٢٥) متره مربع ځمکې په لرلو یو باب ویجاړه سوې ودانۍ داوطلبۍ ته وسپاري. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړې ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي، خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو څخه وروسته د (٢١) ورځو په موده کې د پامیر سینما (١۴) پوړیزې ودانۍ کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني وروسته لومړني قیمت ته په کتو ترلاسه کړي.

## د کابل ولایت مختلفو ناحیو کې د (۴) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت، د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت اړوند (٥،١ او١٦) ناحیو کې (۴) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وسپاري
١. د کابل ولایت (١٦) مې ناحیې اړوند بگرامي نساجي له دیوال سره وصل یو باب نانوائي، چې (٦٢،٧٢) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (١۴٧٥٦) افغانۍ ده.
٢. د کابل ولایت (٥) مې ناحیې اړوند (چاه عمیق) خوشحال خان مېنې سره (٣٣٣) متره مربع ځمکه، چې میاشتنۍ کرایه ئې (٩٣٣٣) افغانۍ ده.
٣. د کابل ولایت (١٦) مې ناحیې اړوند بگرامي نساجي په داخل کې یو باب هنگر سره د شنې ساحې، چې (١٧٣١،٨٠) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۴٢٥٥٠) افغانۍ ده.
٤. د کابل ولایت لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر ودانۍ اول منزل کې یوباب (١٢) مه شمېره غرفه، چې (٨،٠٣)) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (١٥٠٠٠) افغانۍ ده.
ټول هغه حکمي او حقیقي أشخاص، چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي، خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو څخه وروسته د (١۴) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني وروسته لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

## اعلان داوطلبی (٢) جایداد دولتی در ولسوالی شکردره ولایت کابل

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه جایداد های دولتی ذیل را به شکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره/ کرایه میدهد.
١- موازی (١١١٩٧) متر مربع زمین واقع قلعه مراد بیگ ولسوالی شکردره ولایت کابل.
٢-موازی (٥٨٥٠) متر مربع زمین واقع قریه مراد بیك ولسوالی شکردره ولایت کابل.
اشخاص حکمی و حقیقی که خواهان به اجاره/کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر می باشند درخواست های شان را بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت (٧) روز به ریاست عمومی املاك دولتی واقع تعمیر (١۴) منزله سینمای پامیر تسلیم نمایند، وهمچنان شرطنامه را ملاحظه نموده پول حق الاشتراك بدون بازگشت پرداخت نمایند.

## د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند د بگرامیو نساجي په داخل کې د (١٠٨٠) متره مربع مساحت په لرلو د یوه باب هنگر د مزایدې خبرتیا!

د مالیې وزارت، د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند د بگرامیو نساجي د محوطې په داخل کې یو باب هنگر، چې (١٠٨٠) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (٣٥٥٠٠) افغانۍ ده مزایدې ته وړاندې کړي. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړی ملکیت له ذکر سوي مبلغ څخه په لوړه کرایه ونیسي کولای سي، خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو څخه وروسته د (١۴) ورځو په موده کې د پامیر سینما (١۴) پوړیزې ودانۍ د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د (٢٠٠٠) افغانیو په بدل کې ترلاسه کړي.

## د کابل ولایت (١٦) مي ناحیې اړوند د بگرامیو نساجي په داخل کې د یوه باب هنگر د مزایدې خبرتیا!

د مالیې وزارت، د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت (١٦) مي ناحیې اړوند د بگرامیو نساجي په داخل کې یو باب هنگر، چې (١٧٨٨،٦٠) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (٣٧٧٥٠) افغانۍ ده مزایدې ته وړاندې کړي. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړی ملکیت له ذکر سوي مبلغ څخه په لوړه کرایه ونیسي کولای سي، خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو څخه وروسته د (١۴) ورځو په موده کې د پامیر سینما (١۴) پوړیزې ودانۍ د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د (٢٠٠٠) افغانیو په بدل کې ترلاسه کړي.

# شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)




## Plan to Install E-scanners in 12 Customs Ports of Country Approved



The plan of installing 24 electronic scanners (e-scanners) in 12 customs ports of the country has been submitted by the MoF to the Economic Commission, which was affirmed and approved on behalf of the said commission. With the cooperation of the private sector, according to this plan, 24 large electronic scanners worth eight billion Afs will be installed in 12 customs ports of the country through public partnership as one scanner in for exporting and one for importing in each port. These scanners will be activated for usage within a couple of years, and 40% of its revenue will be deposit in national treasury. It is merely worth noting that with the installation of electronic scanners in the customs ports, there will be more efficiency and speed in the customs affairs. It will strictly prevent the smuggling and customs revenue evasion and as a result, billions of Afghanis will be increased in customs revenues.

## Control Room Construction Project of General Directorate of Customs Inaugurated



The reconstruction project of control room related to the General Directorate of Customs was inaugurated at Kabul Customs during a series of ceremonies in order to ensure continuous monitoring and transparency of the import and export activities of merchandises. Deputy Minister of Customs and Revenues, Alhaj Mulla Abdul Qahir Edris; General Director of Customs and Revenues, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed and some other officials of MoF participated in this ceremony. Alhaj Mullah Abdul Qahir Edris said in the opening speech of this program that the duty of every government is to provide better and transparent services to its nation. The aim of Inauguration of the said project is accuracy and speed of commercial activities, increasing security and preventing the entry of illegal goods in the process of import and export activities of commodities. "The officials of IEA are trying to carry out their responsibilities and duties by providing transparent services within the framework of Islamic Sharia, as a result to gain the willingness of Almighty Allah first and then the people," said Deputy Minister. After that, the General Directorate of Customs, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed expressed his satisfaction in development of the country in this regard and added that this control room, which is being equipped, connects all the customs of the country, and provides quick access and makes opportunity for transparent services to the citizens accordingly. Saeed assured the people of Afghanistan that the measures and actions of the officials of IEA are completely in the interest of the nation. Later, Mohammad Zahir Ibrahim, who is in charge of the mentioned chamber of company said that the chamber will be built according to international standards. Eventually, the construction work of this project was officially inaugurated by cutting the ribbon and laying the foundation stone. The worth of this project is over 17.5 million Afs and it will be completed and handed over for benefiting within the next eight months.

## First Round of Afghan-Turkmen Negotiations Holds Place Over Financial, Commercial Issues



The first step of face-to-face talks between the officials of the tax affairs of Afghanistan and Turkmenistan regarding the non-receipt or repudiate of double taxation and other related issues was held at the DM for Revenues and Customs of MoF. In this three-day series of negotiations that the official of the financial, technical, legal and policy affairs of MoF-Afghanistan and the Directore of the experts of the financial system and development budget of the Ministry of Finance and Economy of Turkmenistan, the deputy of financial and accounting policy and representative of the Turkmen embassy in Afghanistan participated; Detailed discussions have been put between the two countries on not taking double taxation, developing trade relations, increasing investment, preventing tax evasion and creating mutual facilities in these areas, as eventually an agreement was reached on the first prepared draft bilaterally. The next round of these negotiations will be held in the near future between the high-level tax officials of the two countries.




## پرتگال له افغانستان سره (۲۰۰,۰۰۰) دوه سوه زره یورو مرسته وکړه



د بشردوستانه چارو د همغږۍ له پاره د ملگرو ملتونو دفتر یا اوچا (OCHA) پر خپله ایکس پاڼه باندې له افغانستان سره د پرتگال له خوا څخه د نغدي مرستې په پار مننديې کړې ده او لیکلي ئې دي: «له پرتگال هیواد څخه مننه، چې له افغانستان سره ئې د دوو لکو (۲۰۰,۰۰۰) یورو، چې وایي (۲۱۵,۷۵۰) امریکایي ډالره کېږي، بشري مرسته وکړه.» د خبر په بنه د یادې اداري پر ایکس پاڼه لیکل سوي دي، چې دا د یاد اروپایي هیواد له خوا د پروسږ کال او روانو زیږدیزو کلونو (۲۰۲۳ ـ ۲۰۲٤ز) په جریان کې د افغانستان د بشري مرستو له صندوق یا (AHF) سره لومړۍ مرسته ده. د ملگرو ملتونو تر چتر لاندې د «اوچا» په نوم دا سازمان نه یوازې د یاد رقم نغدي مرستې په تړاو خبر ور کوي؛ بلکې د مالي ملاتړ د ترغیب په موخه ئې په خپل هېشټېگ (#) کې دا شعار هم لیکلی دئ، چې وایي: «پر بشریت پانگونه وکړئ».

## Financial Stability Committee Convenes Second Meeting with Shareholders of Licensed Banks!

In the second meeting between financial stability committee and shareholders of the licensed banks there was talk of solving the existing problems in the country's banking sector. The meeting was attended by Alhaj Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy PM for Economic Affairs; Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund, the Minister of Finance; the Governor/ General Director of DAB, Alhaj Mullah Hidayatullah Badri and some officials of the relevant bodies. The content of the session was to talk about solving the problems of the banking sector in the country and all-round support from this sector. The Minister of Finance assured all the shareholders of the banks that he will do his best to solve their problems and asked them to return to the country and play a practical part in the development of banks and the country. In this session, the problems, demands and suggestions of the banks' shareholders were heard. Necessary recommendations have been shared with the officials and they were fully assured for solving the challenges.

## Various Contrabands Seized in Kandahar, Nimroz, Helmand Provinces During Last Week



Mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs prevented some import and export goods from being smuggled during last week in different areas of Kandahar, Nimroz and Helmand provinces. Among these seized contrabands are 1,150kg cloths, 4,000kg of dal (lentil/ pulse), 2,200kg of Yunani (Herbal) medicine, 120kg of agricultural medicine, 1,170kg of medical medicine, 35 ton of malts, 12.2 ton of sweets, 260 cartons of wrench and 10 bikes, which the smuggler wanted to smuggle from Pakistan to Afghanistan. Likewise, the staff also halted the export of 65,500kg of scrap/ old iron in Helmand province, which the smugglers planned to smuggle to Pakistan.


د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.